ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**مصباح اللہ**

پی ایچ ڈی (پشتو) ریسرچ سکالر پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ۔

**ڈاکٹر کرن سِنین**

اسٹنٹ پروفیسر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ۔

# پښتو ټپه کښې د مزاحمت تجزياتي مطالعه

**Misbah ullah ***
Phd (Pashto) Research Scholar, Pakhtunkhwa study Center, Bacha Khan University Charsadda.
**Dr Kiran Seeneen**
Assistant Professor, Pakhtunkhwa study Center, Bacha Khan University Charsadda.
***Corresponding Author:** misbahullaha1@gmail.com

## Resistant in Tapa: An Analytical Study

Expression of internal sense and representation of human being in poetry is from the beginning of civilized life. The expression and emotions represented by some ways in literature. Tappa is a special form of Pashto poetry. This type of form is unique and only in Pashto, have two sentences one is nine and second is thirteen syllable. These two have complete meaning. Like forms of Pashto poetry tappa also represent the expression of whole life and also represents the resistant. Tapa expresses uncountable examples of resistant. Resistance is act and expression against unlike and lawful activities.

**Key Words:** *Folk Lore, Tappa, Resistance.*

په مخ د زمکې د انسان دپاره الله تعالٰی ډېر څيزونه پېدا کړي دي ـ خو بعضې څيزونه چې د انسان د خيالاتو، جذباتو او احساساتو سره تعلق ساتي ـ دغه جذبات او احساسات چې په يو خاص قانون، قاعده او ليک لوست

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40
ماخذ تحقیقی مجلہ

کښي راشي نو "ادب" تري جوړ شي ـ ادب په لغت کښي احترام او عزت ته هم وائي او په اصطلاح کښي هغه وینا او لیک چي د انسانانو د احساساتو او جذباتو ترجماني کوي ـ پوهانو د ادب مختلف تعریفونه کړي دي او په مختلفو حصو کښي ئي هم تقسیم کړے دے ـ

د ادب تعلق چونکي د مادیت نه زیات د روحانیت سره دے هم دغه وجه ده چي یو خاص تعریف ئي نۀ شي کېدے ـ مشهوري انسائیکلوپېډیا د ادب تعریف داسي لیکلے دے ـ

> "Literature: (in Latin, litteratura, lite from littera leter) in the widest sense in the expression, representation or manifestation, of thought by means of alphabetic symbols called leters. The product being considered as a collective body without special regard to the excellence and buty of the form of expression sense only the mare polished or artistic class of such products, together with the critical knowledge and appriciation of them, may be called literature.[1]"

ژباړه: لټریچر (ادب) د لاطینی ژبي د لټریچره یا لټر نه ماخوذ دے. په وسیعه معنٰی کښي د انساني احساساتو او جذباتو اظهار چي د انساني همدردی رنګ پکښي وي. چي د الفاظو په شکل کښي عوامو ته پېش کړي شي. هغه شکلي خبره چي په یو مجموعي شکل کښي جوړه شي اګر کۀ د وزن بحر خیال پکښي او نۀ ساتلي شي مګر د زړۀ خبره تري واضحه شي خو چي د ادب په چوکاټ کښي دننه وي. او چي په هغي کښي تنقیدي نقطه نظر هم شامل وي ادب وئیلي شي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40
ماخذ تحقیقی مجلہ

د پښتو اکیډیمی پېښور لغت د ادب په حقله لیکي ـ

**"څانګي پریکول،قلمي کول،شاخ تراشي، عزت، خاطر، لحاظ، مدار، سړیتوب، د خوي بوي ښهٔ والے، متل " چېرته ډب هلته ادب" (۲) تمیز، تهذیب، تعظیم ،احترام،انسانیت آدمیت (۳) علم،پوهه،زده کړه،د علم پنګه (۴) حیا،پرده،شرم (۵) تربیت ،پالنه ، زده کړه "[۲]**

دریاب لغت د ادب په باب لیکلي دي ـ

**" اسم ـ واحد ـ مذکر (۱) تهذیب (۲) سلیقه (۳) زده کړه (۴) نظم و نثر (۵) احترام (۶) د مشرانو د درضې خیال ساتنه (۷) د زنانو د کښېناستو ځاے (وزیر) ـ د یو معنو کښې یې جمع ادبینه ده ، نورو ځایونو کښې جمع ادبونه "[۳]**

د ادب په باره کښې ډېر خوندور او په زړهٔ پورې تعریف سینټ اګسټن کوي ـ " که څما نه څوک تپوس نهٔ کوی نو زهٔ پرې ښه پوهیږم او که څما نه تپوس کوئ نو بیا پرې هېڅ نهٔ رسم ـ "[٤] **د ادب په وجود کښې راتګ د انسان د راتګ سره سم رازروان دے ـ**

**" د کله نه چې انسان دې دنیا ته راغلے دے او پهٔ ښهٔ بد، خوشحالی، سوکالی، غم ښادی ،ارام او تکلیف پوهه شوے دے د هغه وخت نه ادب هم پېدا شوے دے ـ"[٥]**

ادب پوهانو ادب د خلقو د پوهې او زړهٔ کړې په خاطر بیا په مختلفو څانګو کښې تقسیم کړے دے چې یو شعري ادب او بل نثري ادب وئیلې شي ـ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40

ماخذ تحقیقی مجلہ

**" شعري ادب هغه ادب چې د نثر په ځائے په نظم کښې ليکلے شوے وي ـ چې قافيه بحر او وزن لري دې ته شعري ادب وئيلے شي ـ"[٦]**

د نثري ادب هم مختلف تعريفونه شوي دي ـ ادب پوهانو د خپل نقطه نظر په بنياد دغه تعريف تقسيم کړے دے ـ عبدالحليم اثر د نثر تعريف داسي کوي ـ

**" نثر په لغت کښې شيندلو او خورولو ته وائي او په اصطلاح کښې هغه کلام دے چې د وزن د قيد نه خالي او آزاد وي ـ "[٧]**

د نظم او نثر نه پس ادب په ګڼو اصنافو کښې ويشلے شوے دے ـ چې يو پکښې اولسي يا عوامي ادب هم دے ـ دغه اولسي ادب بيا په زباني او تحريري ادب کښې تقسيم کړے دے ـ کوم چې زمونږ د فولکلور يوه اهمه حصه هم ده ـ د فولکلور هم بيا مختلف تعريفونه او ويشنه شوې ده او د دې د تخليق زمانه ئې د انسانانو د پېدائش سره شودلې ده ـ

**" ادب په دوه لويو برخو کښې ويشلے دے ـ چې يو ته اولسي ادب،شفاهي ادب،زباني ادب يا فولکلوري ادب وئيلې شي ـ او بل ته کتابي او تحريري ادب وئيلې شي ـ"[٨]**

د اولسي ادب ښکلا او ښائست دا دے چې دا عام اولس تخليق کړے دے چې په دې کښې ئې اولسي او عوامي ساده او اسان لفظونه استعمال کړي دي کوم چې زمونږ په روزمره ژوند او خبرو اترو کښې استعماليږي ـ په ادب کښې د نوي او جديدو اصطلاحاتو د راتګ سره اولسي ادب د فولکلور يوه حصه جوړه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40



شوه ـ " فولکلور په اصل کښې د لاطیني ژبې تورے دے ـ چې یونان ،فرانس او په آخره کښې انګرېزی ژبې خپل کړې دے ."[۹]

**"فولکلور "folklore" د انګرېزي ژبې یوه کلمه ده ـ چې د دوؤ کلموفوک "folk" او لور"lore" نه جوړه ده ـ فوک معنٰی ده اولس یا خلق او لور معنٰی ده پوهه یا زده کړه ـ** هم دغه شان د فولکلور "folklore" معنٰی شوه د اولس زده کړه یا پوهه په اصطلاح کښې د فولکلور مطلب دے ـ **د یو قام یا معاشرې د ژوند ژواک،دود دستور او رسم رواج په حقله معلومات ترلاسه کول او په ادب کښې ئې محفوظول ـ"[۱۰]**

د فولکلور او بیا په فولکلور کښې د غیر مادي فولکلور مطالعه ډېره ضروري او د خوند او رنګ نه ډکه ده خو د بده مرغه د دې مطالعې، څېړنې او خوندي کولو ته د خلقو ډېر ورستو پام شو ـ

**"په یولسمه صدی کښې ورته دغه محقیقونو پام شو او فولکلورراغونډول ئې شروع کړل او د فولکلور هغۀ برخه چې د اولس په حافظو کښې محفوظه وه هغه راجمع کړل ـ په دې لړ کښې د ټولونه اول پېل برطانوي پوهان جے ډبلیو تهامس کړے وو ـ چې په۱۸۴۶ کښې د دے قسم ادب دپاره فولکلور ټکے استعمال کړو ـ"[۱۱]**

فولکلور ته د اولس پوهه په دې وجه وئیلې کېږي چې په دې کښې د عام اولس د ژوند ټول تجربات شامل وي ـ فولکلور په درې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40
ماخذ تحقیقی مجلہ

برخو کښې تقسیم شوې دے ـ مادي،نیم مادي او غېر مادي فولکلور شامل دي ـ غېر مادي فولکلور تعلق نېغ په نېغه د ادب سره دے ـ

> **"زمونږ سره په ورمبے کښې مادي فولکلور دے چې پکښې کالي پتري،جامه پېزار او سیکي وغیره شامل دي ـ نیم مادي فولکلور چې پکښې مونږ سره توهمات،دود دستور، فال، خوب، جادو، تعویز وغېره شامل دي ـ او غېر مادي فولکلورکښې قیصې،داستانونه، سندرې، متلونه، اړونه،او محاورې وغېره شاملې دي ـ"١٢**

د فولکلور دریم قسم غېر مادي فولکلور چې په اولسي ادب هم یادیږي چې په شفاهي،نیم شفاهي او غېر شفاهي قسمونو کښې تقسیم شوې دے ـ فرهاد وسیم پرسفزي د دغې درې واړو قسمون تعریف څهٔ داسې کړے دے ـ

> **شفاهي ادب د اولسي ادب هغه برخه چې سینه په سینه یا د یونسل نه بل نسل ته منتقل شوې دیت ـ چې په هغې کښې فرضي قیصې دي ـ چې په لیک لوست کښې ئې څه ثبوت نشته ـ لکه متلونه،ټکونه،او اړونه وغېره دا ټول د یو نه بل ته اود بل نه بل ته رارسېدلې وي ،شفاهي ادب یادیږي ـ**
>
> **نیم شفاهي ادب د اولسي ادب هغه اصناف چې څهٔ خو په یادو یاد شوې وي ـ او څهٔ د لیک لوست په لاره لکه کتابي شکل کښې ثبوت لري ـ په دې کښې زیات تر اولسي قیصې، اولسي سندرې، ټپې، چاربیتې، امروزې، او محاورې شاملې دي ـ**

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40
ماخذ تحقیقی مجلہ

> **غېر شفاهي ادب د اولسي ادب هغه برخه چې هغۀ صرف او صرف په لیک لوست کښې وي ـ لکه قیصې، ډرامې، افسانې یا د تاریخ کتابونه وغېره شامل دي ـ غېرشفاهي ادب ګڼلے شي ـ"[١٣]**

د اصنافو په لحاظ اولسي ادب ډېره فراخه او شتمند دے لکه ټپه، چاربېته، لوبه، سندره، قیصه، نیمکۍ، بګتۍ، بابولالې، د اتڼ نارې، سروکي، کاکړۍ غاړې، منظوم او منثور متلونه، اړونه او دوړې وغېره شامل دي ـ خو په دې ټولو اصنافو کښې مقبول، معروف، مشهور او خوندور صنف " ټپه " دے ـ

> **"په اولسي ادب کښې ټپه واحد صنف دے چې د ژوند په هر پړاو کښې خپل کردار او ارزښت لري ـ داسې ځانګړے خصوصیت لري چې په هر دور ښه معروفه او د حالاتو په تقاضو پوره ختلې او پکار شوې ده ـ یو خوا کۀ د قام د تاریخ، دود دستور او کلتور څرګندونه کوي یا د امروزه ژوند او د عقایدو او نظریو عکاسي کوي نو بل خوا زړۀ د دړد غم خفګان، احساساتو او جذباتو ترجماني هم کوي ـ چې د ادب یو صنف ئې هم سیالي نه شي کولې ـ د ټپې په حقله وئیلې کیږي ـ ټپه د پښتو اولسي ادب هغه زوړ، ځانګړے، مشهور، ښکاره، ښکلے، آسان او په زړه پورې صنف دے ـ چې د دې اعجاز، کمال، جمال، جلال هر سړي په پټو سترګو منلے دے ـ "[١٤]**

ډاکټرنورمحمدؐ دانش بېټنے وائي ـ

> **" ټپې ته څوک لنډۍ وائي او که څوک مصرعه یا ټیکې چې هر څۀ وي خو ټپه ټپه ده ـ دا د پښتو اولسي ادب هغه**

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40
ماخذ تحقیقی مجلہ

**ځانګړې، مشهور او د پښتنو، نر، ښځو، زړو، وړو، ځوانانو، پېغلو، ځلمو او د هر چا په زړه نقش کړې هغه صنف دے ـ چې د دنيا يوې ژبې کښې ئې مثال نۀ ملاويږي ـ "[۱۵]**

د ټپې د ټولو نه زيات ځانګړے خصوصيت دا دے چې د دې ويونکې او شاعر نۀ وي معلوم او دا د ټول قوم ميراث ګڼلې شي ـ ټپه کۀ څوک په شعوري توګه جوړه هم کړي خو تر هغې نۀ شي منلې تر څو پورې چې ورته اولسي او عوامي سند نۀ وي تر لاسه شوے ـ دا صنف د لفظونو او جملو په لحاظ هم ډېر اختصار لري چې د دوه مختصرو جملو نه جوړه وي ـ

**" ټپه د يوې نيمګړې او يوې پوره مصرعې نه جوړه وي ـ وړمبې مصرعه ئې نيمګړې وي ـ او دوئمه مصرعه ئې پوره وي ـ د مصرعې اوله برخه نهۀ سېلابه او دوئمه ئې ديارلس سېلابه وي ـ "[۱۶]**

د ټپې د قدامت په باره کښې هم پوهان په يوه خلۀ نۀ دي ـ خو اکثر پوهان دا وائي چې دا لاندينی ټپه د پښتو وړومبی ټپه ده ـ

**"سپوږميه کړنګ وهه راخېژه**
**يار مې د ګلو لوکوي ګوتې رېبينه "[۱۷]**

د نورو خصوصياتو تر څنګ په ټپه کښې د موضوعاتو په لحاظ هم ډېره فراختيا پرته ده ـ په کائنات کښې به داسې موضوع کمه وي چې په ټپه کښې به نۀ وي ذکر شوې ـ او په دغه موضوعاتو کښې يو موضوع مزاحمت ده ـ

## مزاحمت پېژندنه:

د مزاحمت کلمه د عربی نه اردو ته راغلې ده ـ [۱۸]چونکه مزاحمت د عربی ژبې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40


تورے"زخمه"[۱۹] نه ماخذ شوے دے ۔ په عربی کښې مزاحمت دپاره " مقاومه" او " معارضه" په شان کلمه هم استعمالېږي ۔ مقاومه چې د قوم نه ماخذ شوے ده ۔ چې معنا ئې مخالفت یا برابري کول دي ۔ د خپل قوم سره ودرېدل او د مقاومه معنا مقابله یا برابري کول ۔[۲۰]

په اردو کښې "مقاومه" دپاره "مقاومت" تورے هم استعمال شوے دے ۔[۲۱] خو په فارسی کښې "مقاومت" نه علاوه "مزاحمت" هم وئیلې شي ۔ چې معنا ئې *روکنا" کسی پر تنگی*[۲۲] (ایسارونه ،څوک تنګول ) ۔ فارسی کښې مزاحمتي ادب دپاره" ادب مقاومت" استعمالېږي ۔[۲۳]
انګرېزی کښې ئې معنا " مقاومت،مدافعت،مقابله ، [۲٤] Resistance فېروز اللغات کښې د مزاحمت معنا " *روکنے کا عمل، روک ٹوک،رکاوٹ، ممانعت،تعرض*"[۲۵] او بله معنا "*کسی پر تنگی کرنا*"[۲٦] ده ۔ بلوچی کښې ورته "*جل ودار*" پنجابی کښې" *روکاوٹ*" سندھی کښې " *مزاحمت*" او کشمیری ژبه کښې "*رکاوٹ*" وئیلې کېږي[۲۷] ۔ د دې نه علاوه د پښتو مستنده ډکشنرو دریاب او پښتو اکېډمي لغت کښې ئې معنا "بندېز، خنډ"[۲۸] او " ایسارونه، مقابله، اړي"[۲۹] کول دي ۔ د دې ټولو خبرو نه مونږ په دې نتیجه رسو چې د مزاحمت معنا د منع کولو، بندېز لګول یا د څۀ کار وغېره نه کرکه کول دي ۔
پوهانو د مزاحمت تعریفونه په یو مخصوص انداز کښې بیان کړي دي ۔ په مخ د زمکې هر ساه اخستونکي په فطري توګه باندې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40



تر ټولو اول چې کوم جبلي عمل کوي هغه د ځان او د خپل نسل بقاء مخ په وړاندې بوتلل وي ـ دغه بقاء په اصل کښې چې د کوم عمل یا د کومې جذبې د لارې کېږي دغې ته په اصل کښې مزاحمت وئیلې کېږي ـ د اے ایس هاربني، (AS Hornby) د وېنا مطابق مزاحمت (Resistance) معنا د یو چا مخالفت کولو کښې د طاقت استعمال کول، د هغه وړاندې خنډ جوړېدل، هغه منع کول مزاحمت دے ـ[۳۰]

که چرته زمونږ د ژوند نه مزاحمت لرې کړے شي نو ژوند به بې خونده او پیکه پاتې شي او هېڅ قسمه ترقي به ونهٔ کړے شي ـ په دې حواله سلیم راز لیکي:

> **" چې مزاحمت د ژوند د حرارت او حرکت نوم دی دا د انساني مزاج کېفیت یوه رویه او یو عمل دے چې که په ژوند کښې د دې کېفیت رویې او عمل څهٔ عکس او اهنګ نهٔ وي نو جمود او مرګ به ئې مقدر وي ـ"**[۳۱]

د ټولو نه اسان او جامع تعریف ئې ډاکټر خالق زیار کړے دے ـ

> **" مذمت دا دے چې زما دا خبره نهٔ ده خوښه او مزاحمت بیا دا دے چې زهٔ تا دې خبرې ته نهٔ پرېږدم ـ خالق زیار مذمت د مزاحمت وړومبے ګام ګڼي او وائي چې کله په مذمت خبره پېوند نهٔ اخلي نو بیا مزاحمت فرض شي چې د جبر لاس ونیسي او مظلوم د ظلم نه بچ کړے شي ـ**[۳۲]

کله چې هم څوک یو ناوړه کار ویني نود هغهٔ په اعصابو باندې دروند پرېوځي ـ د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40



دغې کار خلاف آواز پورته کړو او یا یې په خپله د هغې کار خلاف لاس اوچت کړو او د هغې د منع کولو شعوري کوشش ئې وکړو ـ خوا کهٔ دغه مسئله سیاسي وي کهٔ سماجي د یو چا دغه رویه په اصل کښې مزاحمت دے ـ

مزاحمت کله او چرته شروع شو ـ د اردو لیکوال ښاغلي ابرار احمد د مزاحمت تاریخ دومره زوړ بللےدے څومره چې د ظلم تاریخ زوړ دے ـ [۳۳] چرته چې ظلم شروع شوے دے ـ د هغې پرضد مزاحمت په وجود کښې راغلي دے ـ الله پاک چې په زمکه خپل نائب یا خلیفه حضرت ادم علیه السلام د خاورې نه جوړ کړو نو ابلیس چې کوم مزاحمت وکړو دغه د ټولو نه وړومبې مزاحمت وو ـ

**وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَئِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ**[۳۴]

ژباړه: او چې کله مونږ فرښتو ته حکم ورکړو چې سجده وکړې آدم ته نو ټولو فرښتو سجده وکړه ماسوا د ابلیس نه چې منکر شو او په غرور کښې اموخته شو چې کافر شو ـ

چرته چې د ظلم تخم کرلې شوے هلته مزاحمت هم سر راپورته کړے ـ هم دغه شان که مونږه پښتو ادب ته وګورو نو چې **د کله نه انسان دې دنیا ته راغلې دے او پهٔ ښهٔ بد، خوشحالی، سوکالی، غم ښادی، ارام او تکلیف پوهه شوے دے د هغه وخت نه ادب هم پېدا شوے دے ـ مزاحمت چرته چې د لاس په زور کېږي نو بل خواه د که قلم د لارې هم مزاحمت څرګندېږي ـ هغه د نثر د لاری هم کېږي او د شعر د لارې هم او په ټپه کښې هم مزاحمت کېږي ـ**

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40
ماخذ تحقیقی مجلہ

اسلام او مزاحمت:

اسلامي مزاحمت هغې ته وئيلې شي چې پکښې د اسلام په خاطر بحث شوے وي ـ او د اسلام د سپېڅلي دين باندې پکښې په ښکاره ډول احکامات جاري وي ـ چې دا دين حق او سچ دے ـ ځکه چې دا حق او سچ دين الله پاک په پاک حضرت محمد ﷺ باندې له بره نه نازل کړے دے او هم د هغه ټول احکامات او قانون به منو او د الله پاک نه به د هر څۀ سوال او کار غواړو ځکه چې هغه د هر څۀ کار لپاره کار ساز دے ـ

**تینګ د الله رسول ﷺ په لار شه**
**سم ایماندار شه مۀ کوه غلط کارونه**[۳۵]

په يو بل ځائے کښې د شيطان په حقله وائي چې هغه ته په لار کښې خنډ جوړ شه هغه سره جنګ وکړه او د الله پاک او د هغه د رسول لاره خپل کړه ـ

**تینګ د الله رسول ﷺ په لار شه**
**جنګ ته بېدار شه نفس شیطان د نۀ پربږدینه**[۳۶]
**اور د دوزخ ورله لازم دے**
**چې نوم دې واوري بې درووده پاتې شينه**[۳۷]

## پېغور او مزاحمت:

د پلار په کور د پېغلې جينۍ د زړېدو اسلام کښې ممانعت کړے دے ـ ځکه چې د دې له کبله په معاشره کښې خرابياني راولاړېږي ـ خو پښتنه پېغله عموماً د خپلې حيا او عزت ډېر ګران وي او چې تر څو ئې وس رسي نو د پېغور او تور نه ځان په امان ساتي ـ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40



**په مېيزتوب درسره نۀ ځم**
**په پاکه مينه درسره يم ځو چې يمه**[۳۸]

په يو بل ځاے کښې وائي

**څه له مې توره توره بولے**
**زۀ توره نۀ يم مور په ناز بدلے يمه**[۳۹]

## وطن او مزاحمت:

پښتانه د خپل وطن سره ډېره مينه کوي ــ که په خپل وطن ، خپل سرونه شيندي او د تورو مېدان ته په ګډا ورځي نو د کور مېرمن او دده معشوقه هم د خپل وطن سره بې کچه مينه لري چې نه صرف د خپل لالي په مرګ فخر کوي بلکه په جار وائي .

**که تور وربل مې ميراتېږي**
**په وطن جنګ دے**
**جانان نه منعې کومه**[۴۰]

**په تور ټوپک ويشتلے راشې**
**د نامردۍ اواز دې را مۀ شه مئينه**[۴۱]

**په هندوستان دے ځلے جوړ شه**
**د بې ننګۍ اواز دې رامۀ شه مئينه**[۴۲]

**که په سينه دې پرهر نۀ وو**
**په شا غلبېل شه څه پرواه دې نۀ کومه**[۴۳]

## طنز ومزاح او مزاحمت:

"د طنز مطلب دا دے ــ چې مصنَف وائي يو څۀ خو مطلب ئې بل څۀ وي ــ يعنې هغه خپله خبره بلاواسط **INDIRECT** کوي ــ د دے برعکس مزاح کښې خبره بلاواسط **DIRECT** کيږی ــ خو مقصد د دواړو يو ئې ــ کوم اولس کښې چې طنزومزاح نۀ وي ــ يا پکښې د دے زغملو ماده نه وي هغه اولس روستو پاتے ګڼلے شي ــ د طنزومزاح نه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40



يو نقاد يا د ژبې او ادب عالم د يو اولس ذهني ارتقا اندازه لګوي ـ "[٤٤]

پښتنو د طنز ومزاح مزاحمتي عکاسي په ټپو کښې څۀ داسې کړې ده ـ

**"ايمان دې ښۀ راته معلوم دے**
**په رواجي بريتو دې مۀ وهه لاسونه "[٤٥]**

په دې ټپه کښې د مزاحمت او مزاح کولو اظهار څۀ په ښۀ شان سره شوے دے:

**"زما په برخه کښې کڼه شوه**
**دکټ بازو ورته په ډانګ باندے وهمه"[٤٦]**

**ګودر او مزاحمت:**

ګودر هغه ځاے ته وئيلې کېږي چرته چې خلق په اوبو کښې پورې وتې شي،ځاروي پکښې اوبۀ څښې او زنانه ترې اوبۀ راډکوي او جامې وغېره پکښې وينځي ـ" اردو او پنجاب کښې ګودر ته "پنګهټ" وئيلې کېږي ـ چې په پښتو کښې ورته ګودر وائي ـ ګودر د ادب سره سره رومانې،ثقافت ،کلتور سره هم تعلق لري"-[٤٧]

**که دې زما ديدن ياديږي**
**د ګودر غاړه اجاره واخله مئېنه "[٤٨]**
**"ما په ګودر د جونو ښخ کړئ**
**ګوندې ملاله چې په ما کېږدي قدمونه"[٤٩]:**

**که دې زما ديدن ياديږي**
**د ګودر غاړه اجاره واخله مئينه[٥٠]**

ټپه چې د پښتو د اولسي ادب يو ډېر زوړ او لرغونے صنف دے ـ ټيک ده چې د جسامت په لحاظ به وړه او لنډه وي خو د معنې په لحاظ دومره خوندوره او زوروره ده چې په هر اړخ يې په خپل ځان کښې بلها موضوعات ځاے کړي دي ـ چې د وخت تېردو سره

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40

ماخذ تحقیقی مجلہ

سره يې د خپل چاپېرچل او حالاتو صحيح ترجماني کړې ده ـ

که د تحقيق په مېدان کښې وکتلې شي نو هغه شان تحقيق او څېړنه په پرې نه دي شوې چې د کومې حقداره ده ـ په دې يو څو پانو تجزياتي مطالعه کښې مونږ ته معلومه شو او په دې نتيجه ورسېدو ـ که يو شاعر د ظالم جابر خلاف يا د خپلې بقاء په خاطر قلم پورته کړې دے او د شعر د لارې خندا ئې جوړ شوې او مزاحمت ئې کړې دے نو بل اړخ ته عوامي يا اولسي صنف يعنې ټپې هم په هر اړخ مزاحمتي رويه خپله کړې ده چې قدم په قدم په هر اړخ يې مزاحمت کړې دے ـ که په پښتو ټپه کښې د مزاحمت په باب له هر څومره تحقيقي څېړنه وشي نو کمه به وي ـ ځکه چې د مزاحمت په حقله دومره ټپې شتون لري او په هره موضوع يعنې سياسي مزاحمت، کلتوري مزاحمت، سماجي مزاحمت، اقتصادی مزاحمت، مذهبي مزاحمت، وغېره مواد موجود دي ـ

حوالې

1 *Encyclopedia Americana, Vol. 17-1958, P. 472*

۲ ـ خيال بخاري، ډاکټر، پښتو اکېډېمي لغت، پښتو اکېډېمي پېښور يونيورسټي، خيبر پښتونخوا پاکستان ـ ۲۰۱۹مخ ۱۸

۳ ـ قلندر مومند او فريد صحرائي،درياب پښتو لغت،چاپ خانه اميد پرنټرز دربار مارکيټ لاهور اول چاپ کال ۱۹۹۴ء،مخ ۱۷

٤ـ سحر گل سحر،"پښتو ادب پوهنه"يوني ورستي پبلشرز،جنوري ۲۰۱۶ مخ ۲

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40
ماخذ تحقیقی مجلہ

۵ـ دانش، نور ﷴ بېټنےډاکټر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ۱۷ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ۱۰۷
٦ ـ هم دغه مخ۱۱۶
۷ـ اثرعبدالحیلم افغاني،"پښتو ادب"،پشاوراداره اشاعت سرحد، ۱۳۸۰ھ ،مخ ۷۰
۸ ـ دانش، نور ﷴ بېټنےډاکټر، د پښتو ټپې عمرانی مطالعه، کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ۱۷ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ ۹۰
۹ـ یوسفزئےفرهاد علی ،"فولکلوري ادب"،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،۲۰۱۷ء ،مخ۷۹
۱۰ـ دانش، نور ﷴ بېټنےډاکټر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ۱۷ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ ۱۲۰
۱۱ـ سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې (ټپې)"،ډائرېکټر پښتو اکیډمي ،۱۹۸۴ مخ۷
۱۲ـ خاکي شاه وزیر خان،"په ټپه کښې مادي فوکلور"،ندیم یونس پرنټرز لاهور،۲۰۱۷،مخ۱۲
۱۳ـ یوسفزئےفرهاد علی ،"فولکلوري ادب"،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،۲۰۱۷ء ،مخونه ۸۲،۸۳
١٤ـ دانش، نور ﷴ بېټنےډاکټر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ۱۷ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ ۱۹۲
۱۵-دانش، نور ﷴ بېټنےډاکټر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ۱۷ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ ۲۰۰
١٦ ـ سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې (ټپې)"،ډائرېکټر پښتو اکیډمي ،۱۹۸۴ مخ ۲۷

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40


١٧ ـ يوسفزئےفرهاد علی ،"فولكلوري ادب"، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،٢٠١٧ء ،مخ ٩٧

١٨ - اغا ظفر حسن، ڈاکٹر، مزاحمت اور پاکستانی اردو شاعری، ایجوکیشنل پبلشنگ ہاوس دہلی اشاعت اول ۲۰۰۷، ص۱۷

١٩ ـ بلياري ،ابوالفضل مولانا عبد الحفيظ ،مصباح اللغات،الميزان اردو بازار لاهور، ٢٠٠۴ص٣٣۴

٢٠ - قادری، محمد اصف، اردو میں مزاحمتی شاعری کا تحقیقی وتنقیدی مطالعہ، مقالہ برائے پی ایچ ڈی اسلامیہ یونیورسٹی بہاولپور، اشاعت، ص۱

٢١- هم دغه اثر

٢٢-فرهنګ فارسي، کراچي، دارالاشاعت،١٩٩٠ء ،ص۶٧۵

٢٣ - قادری، محمد اصف، اردو میں مزاحمتی شاعری کا تحقیقی وتنقیدی مطالعہ، مقالہ برائے پی ایچ ڈی اسلامیہ یونیورسٹی بہاولپور، اشاعت، ص۱

24 - Qureshi , Bashir .A ,Practical Dictionary, Kitabistan publishing co,38 Urdu Bazar , Lahore,p.555

٢٥ - الحاج مولوي فيروزالدين، فيروز اللغات اردو جامع نيا اډيشن، لاهور،مخ ١٠١٢

٢٦- هم دغه اثر

٢٧ - قادری، محمد اصف، اردو میں مزاحمتی شاعری کا تحقیقی وتنقیدی مطالعہ، مقالہ برائے پی ایچ ڈی اسلامیہ یونیورسٹی بہاولپور، اشاعت، ص۱

٢٨ - خيال بخاري، ډاکټر، پښتو اکيډېمي لغت، پښتو اکيډېمي پېښور يونيورسټي، خيبر پښتونخوا پاکستان ـ ٢٠١٩مخ١۶١٣

٢٩ - قلندر مومند او فريد صحرائي،درياب پښتو لغت،چاپ خانه اميد پرنټرز دربار مارکيټ لاهور اول چاپ کال ١٩٩۴ء ،مخ١١٩١

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40



30 - Horby, A. S. (1986). Oxford advanced learner's dictionary of current English. Oxford. 4 th ed, Oxford University press. P 93.

۳۱ - راز ،سلیم ، ادب او تنقیدي مسائل، کلاسک خپرونده ټولنه ، ۲۰۱۶مخ۹۹

۳۲- زیار ،خالق ، جګه شمله، ملاکنډ ادبي او کلتوري جرګه درګی، ۲۰۱۹مخ۱۰

.. ۳۳ - احمد،ابرار، مزاحمتی ادب ، مشمولہ مزاحمتی ادب اردو، مرتبہ رشید امجد،ڈاکٹر، اکادمی ادبیات اسلام آباد،۱۹۹۵ ص ۴۹

۳۴-القران،سورت البقرہ ایات ۳۴

۳۵ - سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې (ټپې) "،ډائرېکټر پښتو اکیډمي ، ۱۹۸۴، مخ ۱۸۰

۳۶ - هم دغه اثر

۳۷ - دانش، نور محمد بېټنے،ډاکټر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ۱۷ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ ۳۰۹

۳۸ - طائر،محمد نواز،"ټپه او ژوند"،ډائرکټر پښتو اکیډمي، پښور یونیورسټی،۱۹۸۰، مخ ۷۳

۳۹ - سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې (ټپې) "،ډائرېکټر پښتو اکیډمي ، ۱۹۸۴، مخ۲۳۶

۴۰ - محمد نواز طائر،روهي سندرې، اول جلد،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۷۴مخ۲۵

۴۱ - دانش، نور محمد بېټنے،ډاکټر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ۱۷ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ ۲۹۶

۴۲ - سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې (ټپې) "،ډائرېکټر پښتو اکیډمي ، ۱۹۸۴، مخ۱۵۴

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-40

ماخذ تحقیقی مجلہ

٤٣ - دانش، نور محمؐد بېتنےډاکتر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ١٧ میربا ره کهو،۲۰۱۷،مخ ۲۹۶
٤٤ ـ داؤد،داورخان پروفېسر"پښتوټپه"پښتو اکېډمي پشاور یونیورستي، ۸ جولائي ۱۹۸۴ مخ " مخ١١٧
٤٥ ـ همدغه اثر، مخ١٢١
٤٦ ـ همدغه اثر، مخ١٢٢
۴۷ - یوسفزئی روخان،"پختون کلچر کے خدوخال"،امن پرنٹنگ پریس پشاور،مارچ ۲۰۱۹ ،مخ ۴۴
۴۸ سیٹھی، محمد یونس وفا،"سرود کوھساد"، ممبر یہ پریس پبلشرز ، ۱۹۶۳ ، مخ ۱۹۱
٤٩ ـ دانش، نور محمؐد بېتنےډاکتر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"،کرسټل پرنټرزسائیبان هیلز ١٧ میربا ره کهو،۲۰۱۷،"، مخ ١٧٩
۵۰ - سیٹھی، محمد یونس وفا،"سرود کوھساد"، ممبر یہ پریس پبلشرز ، ۱۹۶۳، مخ ۱۹۱